مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڼ

۲۰۲۳/۱۱/۲۹

# د یهودو عادلانه جګړې

(پنځمه برخه)



(غزه په اور کې)

**د اسراییلو د جګړه‌مار خدای یهوه عدالت** (د بې ګناه انسانانو او ساکښو وژنې)

لکه څه ډول چې اسراییلي صیهونستان په فلسطین کې خپلو وحشیانه جګړو ته دوام ورکړی چې په سیمه کې هر ډول ساکښ له منځه وړي او پر هېچا رحم نه کوي، همداسې د دوی ځانګړی جګړه‌مار خدای یهوه، د ځمکې پر مخ ټول انسانان، ګناه‌کار او بې ګناه یو ځای وژني او هغه بې شعوره او بې ضرره ژوي چې هېڅ ډول جرم او ګناه یې نه ده کړې هم له منځه وړي، تر دې چې نباتات هم د ځمکې له مخ پاکوي، د پلرونو پر ګناه زامنو او د زامنو پر ګناه پلرونو ته، تر څلورو پښتو (نسلونو) پورې سزا ورکوي او ځینو نورو ته تر ابده سزاګانې ورکوي، د یو تن پر ګناه د ټول قوم وګړي وژني او په نه خبره خپلو لارویانو ته د مرګ سزا ورکوي. په داسې حال کې چې یهوه وايي:**«هر چا ته د هغه د عمل سره سمه سزا ورکوم.»** (د ارمیا کتاب: ۱۰/۱۷)

خو هغه چې له یهوه سره دوستي کوي تر زرو پښتو پورې رحمت پرې کوي. د اسراییلو د ځانګړي خدای یهوه دا ډول کړنې د یهودو په دیني سرچینو کې راغلي دي چې لومړی د نوح په توپان کې د یهوه له‌خوا د ټولې نړۍ د ژویو د له منځه وړلو یادونه شوې ده، یهوه د نړۍ پرمخ د ټولو ساکښو د رامنځ ته کولو له امله پښېمان او خواشینی دی:«یهوه خدای وویل: **ما چې انسان ساز (خلق) کړی دی د ځمکې له مخ یې ورکوم، حتا حیوانات، حشرات، الوتونکي مرغان هم له منځه وړم، ځکه چې د دوی په پیدا کولو پښېمانه شوی یم.»** (د پیدایښت کتاب: ۶باب/ ۷)

وروسته له هغې چې نوح او د هغه کورنۍ او یوه، یوه جوړه حیوانات او الوتونکي مرغان د نوح به بېړۍ کې ځای‌پرځای شول، نو یهوه د ځمکې پر مخ ټول انسانان او هغه ژوي چې هېڅ ګناه یې نه ؤ کړې له منځه یوړل:**«د ځمکې پر مخ ټول ساکښ، یاني کورني او وحشي حیوانات، حشرات، الوتونکي مرغان او آدمیان ووژل شول. هر ژوندی چې په وچه کې ؤ له منځه ولاړل.** په دې ډول یهوه د ځمکې پر مخ ټول ساکښ له منځه یوړل، پرته له نوح او هغه چې په بېړۍ کې ورسره وو.»[1] (پیدایښت:۷/۲۱-۲۲-۲۳)

---

[1]: ومولوستل چې د تورات د پیدایښت په کتاب کې د نوح توپان نړېوال بلل شوی دی چې سربېره پر ګناه کوونکو انسانانو باندې د نړۍ ټول بې ګناه انسانان او بې ګناه ساکښ په‌کې ډوبېږي خو په قرآن کریم کې د نوح توپان یوازې د نوح (ع) پر قوم پورې محدود او د نوح قوم چې په ګناهونو کې غرق ؤ په‌کې غرقیږي، لوی څښتن الله تعالی چې د عالمیانو ریښتنی خدای دی، د اسراییلو د خیالي خدای یهوه په څېر پر بې ګناه خلکو ظلم نه کوي، د نوح د توپان په هکله په قرآن حکیم کې څو ځایه بېلابېلې یادونې راغلي دي چې موږ یوازې د فرقان سورت په ۳۷ آیت باندې بسنه کوو:

﴿وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ أَغْرَقْنَاهُمْ وَجَعَلْنَاهُمْ لِلنَّاسِ آيَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّالِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ (۲۵:۳۷)

ژباړه:«کله چې د **نوح قوم** زموږ پیغمبران دروا‌غجن وګڼل، موږ هغوی غرق کړل او د نړېوالو لپاره مو د عبرت نښه وګرځول او د ظالمانو لپاره مو دردناک عذاب تیار کړی دی.»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نوح له توپان زرګونه کلونه وروسته، يهوه بيا غواړي د ځمکې پر مخ هر ژوی له منځه يوسي او دا ځل خو په اوبو کې کبان هم وژني. د اسراييلو نبي صفنيا د حساب او کتاب د ورځې تر سرليک لاندې، په خپل کتاب کې د يهوه له قوله وايي چې د ځمکې پر مخ به ټول ساکښ له منځه وړي، يهوه چې ربنتنی خدای نه دی نه شي کولی په هر ځای کې هر څه ووينې، نو په بلځراغ ګناهکاران لټوي او سزا ورکوي، هغه وايي:**«د ځمکې پر مخ چې هر څه دي له منځه به يې يوسم، انسانان، حيوانات، الوتونکي مرغان او د اوبو کبان له منځه وړم.»**
زياتوي:«په هغه ورځ به څراغ په‌لاس په اورشليم کې وګرځم او هغه کسان به ولټوم چې په ډاډه زړه ګناهونه کوي او ګومان کوي چې زه د دوی په کار کې کار نه لرم، پيدا او سزا به ورکړم.» (صفنيا:۱/۱-۱۲؛۲)
د اسراييلو خدای په مصر کې انسانان او حيوانات ووژل، ونې او بوټي يې له منځه يوړل خو يهوه خپل قوم له هر ډول خطره ساتي، د دې لپاره چې يهوه خدای د مصر فرعون وډار کړي، نو د مصر پر ټوله ځمکه يې ږلې وکړه، د فرعون او د ټولو مصريانو مشران زامن يې ووژل، تر دې چې د څارويو مشران بچيان يې هم ووژل:«يهوه پرکه او ږلې ولېږله او تکې (تندرونه) يې ځمکې ته واستول. د مصر په تاريخ کې چا دا ډول وېروونکې ږلې او تکې نه وې ليدلې. د مصر په دښته کې ږلې هر څه ووهل، **انسانان او حيوانات يې ووژل، نباتات يې له منځه يوړل او ونې يې ماتې کړې.** يوازې هغه ځای چې له ږلې په امن کې پاتې ؤ، د [مصر] د جوشن سيمه وه چې بني اسراييل په کې اوسيدل.» (د هجرت کتاب:۹/۲۳تر ۲۶پورې)

«نيمه شپه **يهوه خدای د مصريانو ټول مشران زامن ووژل،** د فرعون له مشر زوی چې د هغه ځای ناستی ؤ، د غلام تر مشر زوی پورې چې په تور کوهي کې بندي ؤ. **يهوه د مصريانو د حيواناتو مشران بچې هم ووژل.»**[2] (هجرت:۱۲/۲۹)
څوک چې له يهوه سره دښمني کوي سربېره پر هغه، د هغه راتلونکو څلورو پښتو ته چې هېڅ جرم يې نه وي کړی هم سزا ورکول کېږي، يهوه موسی ته د خپلو لسو حکمونو په لړ کې وايي:«... زه چې ستا خدای يهوه يم، غيرتي خدای يم، څوک چې له ما سره دښمني کوي سزا ورکوم، **دا مجازات د هغوی زامنو ته هم ورکول کېږي چې د دوی تر دریم او څلورم پښت ته هم رسېږي. خو هغه کسان چې له ما سره دوستي کوي او زما اوامر پلي کوي، تر زرو پښتو پورې رحمت پرې کوم.»** (هجرت:۲۰/۵-۶)
يهوه د زامنو پر ګناه پلار او د هغه کورنی ته تر ابده سزاګانې ورکوي، ځکه چې پلار خپل زامن له ګناهونو نه منع کوي. يهوه د اسراييلو نبي سموييل ته وويل:«زه به په اسراييلو کې داسې کار وکړم چې خلک يې په اوريدلو سره ولړزيږي، هغه بلاګانې چې د عيلي د کورنی په هکله مې ويلي دي پر هغه به يې را نازلې کړم، هغه ته مې ويلي چې **د هغه کورنی ته به تر ابده سزاوې ورکوم،** ځکه چې د هغه زامن زما پر وړاندې ګناهونه کوي، په داسې حال کې چې د خپلو زامنو له ګناهونو خبر دی خو هغوی له دې کارونو نه منع کوي.» (د سموييل لومړی کتاب:۳/۱۱-۱۲-۱۳)
کله چې د موسی او هارون پر وړاندې يو تن اسراييلي (قورح) اسراييل پارولي وو، نو يهوه خدای په قهر شو، غوښتل يې د يو تن د ګناه له امله ټول قوم وژني:«يهوه موسی او هارون ته وويل: **له دغه قوم څخه لرې شئ چې دوی ټول فوراً هلاک کړم.**
خو موسي او هارون په خارو کې پرېوتل او سجده يې وکړه، ويې ويل:اې يهوه خدايه چې د ټول بشر خدای يې[؟] آيا د يو تن د ګناه له امله ټول قوم ته به قهر شوی يې؟» (د شمېر کتاب:۱۶/ ۲۱-۲۲)

---

[2]: په قرآن عظيم کې د الله تعالی لخوا د فرعون يا نورو مصريانو، د زامنو د وژلو په هکله يادونه نه ده شوې او د مصريانو د حيواناتو چې طبعاً بې ګناه وو، د هغوی د وژلو په اړه مالومات نه دي راغلي، بلکې د فرعون لخوا د بني اسراييلو د زامنو د وژلو خبر ورکړ شوی دی، د قرآن حکيم په بېلابېلو ايتونو کې فرعون او د هغه نږدې کسانو ته په بېلابېلو وختونو کې د سختو مجازاتو او سخت عذاب يادونې شوې دي چې په هغو کې: د باران اوسيلاب توپان، د ملخيو سېلونه، وربږي، چونګښې، وينې، وچکالي او نورو يادونه شوې ده، په قرآن کريم کې څو ځله، په سيند کې د فرعون او د هغه د لښکر د ډوبيدلو په اړه مالومات راغلي دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

هغه مهال چې د فلسطين د (اريحا) ښار اسراييلو اشغال کړ، نو يوشع اعلان وکړ چې يهوه امر کړی دی چې هېڅوک دې له لوټ شويو توکو کوم څيز وانخلي خو يو تن اسراييلي ځيني لوټ شويو توکو غلا کړل، نو يهوه او يوشع د يو تن په جرم د هغه کورنۍ او څارويو ته د مرګ سزا ورکړه چې په دې کار سره د يهوه خدای قهر سوړ شو:«يهوه خدای امر کړی ؤ چې له نيول شوي ښار [اريحا] څخه کوم څيز په غنيمت وانهخلئ خو هغوی له دې امر سرغړونه وکړه او عخان نومي ... هغه ترلاسه شوي توکي چې حرام بلل شوي وو، د ځان لپاره په غنيمت واخيستل چې يهوه خدای له دې امله د اسراييلو پر ټول قوم په غوسه شو... يوشع عخان ته وويل:زويه! د اسراييلو خدای يهوه پر وړاندې رښتيا ووايه او خپل ګناه ومنه، راته ووايه څه دې کړي دي او له ما يې مه پټوه.» (د يوشع کتاب:۷/۱۹؛۱)
عخان اعتراف وکړ هغه څه يې چې د لوټ شوي مال څخه غلا کړي وو، يوشع ته وښودل.«غلا شوي توکي يې يوشع او د اسراييلو قوم ته ورکړل او د يهوه خدای پر وړاندې يې پر ځمکه کېښودل. يوشع او ټولو اسراييليانو عخان ونيو، هغه يې له غلا شوي څادر، سپينو زرو، طلايي لمر او له خپلو زامنو، لوڼو، غواګانو، مېږو، خرونو، خېمو او هر څه يې چې درلودل د عخور درې ته بوتلل.
په هغه ځای کې يوشع عخان ته وويل: ولې دې دا ډول بلا زموږ پر سره راوستله؟ اوس نو يهوه خدای تا په بلا اخته کوي. بيا **ټولو اسراييلو هغه په تيږو وويشتل (سنګسار کړل) او بيا يې د هغوی جسدونه وسوزول** او د عخان په سوزيدلي جسد يې د تيږو لوی ځلی جوړ کړ... **په دې ډول د يهوه خدای قهر سوړ شو.»**[3] (يوشع:۷/۲۳تر ۲۶پورې)
د يهودا يو تن پاچا عزيا چې غوښتل يې يهوه خدای ته په‌خپل لاس قرباني او خوشبويه توکي لوګی کړي او په دې کار يهوه خدای ته خپله وفاداري او اخلاص څرګند کړي خو يهوه د عزيا پاچا پر دې کار په غوسه کيږي او نوموړی د جذام پر ناوړه ناروغۍ اخته کوي، دا داسې څه وو لکه چې وايي:**(خدمت کرده ګناه لازم.)** په دې اړه د پاچاهانو په دوېم کتاب کې داسې لولو:«د عزيا قدرت د هغه د غرور او تباهۍ سبب شو، هغه د يهوه خدای کور ته ننوت او د قربانۍ په ځای کې يې د خوشبويۍ په وسوزولو پيل وکړ چې په دې وسيله د خپل خدای يهوه پر وړاندې يې ګناه ترسره کړ، په ده پسې لوی کاهن عزريا او اتيا تنه نور کاهنان چې شجاع کسان وو، د خدای کور ته ننوتل او د عزيا پاچا د دې کار سره يې مخالفت وکړ، ويې ويل: ای عزيا د خدای لپاره د خوشبويۍ (بخور) سوزول ستا دنده نه ده، دا يوازې د هغو کاهنانو دنده ده چې د هارون له نسله دي چې د همدې موخې لپاره پاک شوي دي، له دغه ځايه بهر شه، ګناه دې کړې ده، يهوه خدای به ستا پر دې کار خوشاله نه شي. عزيا چې د قربان‌ځای تر څنګ ولاړ ؤ، په قهر شو او د بخور لوښی يې چې په لاس کې ؤ، پر ځمکه کېښود. **دا مهال ناڅاپي د جذام ناروغي يې پر تنده (تندي) ښکاره شوه،** عزيا او کاهنانو چې دا حالت وليد، نو په بېړه يې هغه له هغه ځايه بهر کړ، هغه هم غوښتل د خدای له کوره بهر شي، ځکه چې يهوه خدای هغه ته سزا ورکړي وه.» (د پادشاهانو دوېم کتاب: ۱۶/۲۶تر ۲۰ پورې)
زموږ په سيمه کې متل دی چې وايي:**(ښه مه کوه بد نه شته)** دا ډول د يو اسراييلي عُزه نومي کيسه چې هغه غوښتل د اسراييلو د سپيڅلي کتاب صندوق چې د غوايانو په ګاډۍ کې انتقاليده، له غورځولو بچ کړي، يهوه خدای هغه ته د دې کار له امله د مرګ سزا ورکړه او هغه يې په هماغه ځای کې مړ کړ:«هغه مهال چې داؤد د اسراييلو د تورات د کتاب صندوق چې د يعاريم په کلي کې ؤ، اورشليم ته راوړل کيده، «د تورات صندوق په غرنۍ سيمه، د ابيناداب په کور کې ؤ، له هغه ځايه واخيستل شو او په يوه نوي ګاډۍ کې يې کېښود، عُزه او اخيو چې د ابيناداب زامن وو، د غوايانو ګاډۍ چلوله او اخيو د صندوق پر وړاندې روان ؤ، داؤد د اسراييلو له مشرانو سره چې په ده پسې روان وو، د تار، چنګ، د کېنګړې لرونکی درياګی، ډول او سنج له غږولو سره يو ځای په ټول زور سره سندرې ويلې او ګډېدل.
خو کله چې د ناکن درمن ته ورسيدل، غوايان وښوييدل او عزه خپل لاس اوږد کړ، د تورات صندوق يې ونيو چې له غورځيدو يې بچ کړي. **دا مهال يهوه خدای پر عُزه باندې په قهر شو او د دې بې احترامۍ له امله يې هغه په هماغه ځای کې د تورات صندوق تر څنګه وواژه...** هغه ورځ داؤد له يهوه خدای وډار شو ويې ويل: څه ډول کولی شم د تورات صندوق خپل کور ته يوسم؟.» (د سموييل دوېم کتاب:۳/۶ تر ۹پورې)

---

3: ﴿أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾
ژباړه:«هېڅوک به د بل چا د ګناه پيټې نه اخلي.» (د نجم سورت: ۳۸آيت؛ اسراء: ۱۵؛ انعام:۱۶۴؛ زمر:۷؛ فاطر:۱۸)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ



(غزه په د اسراییلو په وحشت کې)

نېټه:۱۴۰۲/۹/۷ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ